PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت خلورم کال، ۳۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۷ مه ګڼه  چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د مرغومی ۲ مه  د۱۴۳۴ هـ ق د صفر المظفر ۱۲ مه  د۲۰۱۲ م د دسمبر ۲۲ مه

### درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لویې او فساد هڅې نه کوي. او آخرنې برې د پرهیزګارانو په برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به يې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدی سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

### درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناگوار باشد». (صحیح بخاری)

صدیقی:

## زنی که مشاور امریکایی را در کابل به قتل رساند، ایرانی است

**این زن باشندهء اصلی شهر تهران است و از پنج سال به این طرف در صفوف پولیس وظیفه اجرا می کرد**

کابل، رسانه ها:
وزارت داخلهء افغانستان می گوید، زنی که به روز دوشنبه یک مشاور امریکایی را در داخل قوماندانی امنیهء ولایت کابل به قتل رساند، ایرانی است.
مسوولان این وزارت تایید می کنند، که این زن باشندهء اصلی شهر تهران است و از پنج سال به این طرف در صفوف پولیس وظیفه اجرا می کرد.
صدیق صدیقی سخنگوی این وزارت به روز سه شنبه در کابل به خبرنگاران گفت: این زن پیش از این که شامل ریاست جندر وزارت داخله گردد، در یکی از حوزه های امنیتی شهر کابل به عنوان پولیس وظیفه اجرا می کرد.
به گفتهء آقای صدیقی، نرگس سی و سه ساله با یک مرد افغان در ایران عروسی کرده و حدود ده سال پیش پس از وارد شدن به افغانستان به همکاری شوهرش تذکرهء افغانی

بقیه در صفحه ۴

## نشست های مشورتی صلح باید با توافق دولت افغانستان در داخل کشور برگزار شود — (وزارت خارجه)

**مذاکرات رسمی مستقیم بین دولت افغانستان و طالبان، میتواند در خارج از کشور از طریق پروسه های رسمی، به شمول ایجاد دفتر تحریک طالبان در قطر، صورت گیرد**

کابل، رسانه ها:
وزارت خارجهٔ افغانستان می گوید که نشست های مشورتی صلح، باید با موافقهٔ دولت افغانستان و در داخل کشور برگزار گردد. این درحالی است که هیئت معاونیت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما)، می خواهد نشست بین الافغانی گفتگو های صلح را، با اشتراک مخالفین مسلح دولت و تمام جهت های سیاسی افغانستان، در خارج از افغانستان تدویر کند. گفته می شود که عشق آباد پایتخت

بقیه در صفحه ۴

## بعضی کاندیدان احتمالی از طریق فیسبوک کمپاین را آغاز کرده اند

کابل، رسانه ها:
کمپاین از طریق فیس بوک و یا صفحات دیگر انترنتی برای انتخابات ریاست جمهوری و دیگر انتخابات در کشور یک تجربه جدید می باشد. کاندیدان احتمالی ریاست جمهوری آینده افغانستان در حالی از طریق فیس بوک به کمپاین های انتخاباتی آغاز کرده اند که علاقه مندان استفاده از انترنت و فیس بوک با گذشت هر روز در کشور افزایش می یابد.
فوزیه کوفی نماینده بدخشان در ولسی جرگه...

بقیه در صفحه ۴

## یک هیأت افغانی به خاطر غرق شدن افغان ها به یونان فرستاده شد

**این هیات در جهت تثبیت هویت افغان های که دراین حادثه جان داده اند کار خواهد کرد**

کابل، رسانه ها:
وزارت امور خارجهء افغانستان هیاتی را به یونان فرستاده است. یک مقام این وزارت گفت، این هیات در مورد غرق شدن مهاجران افغان در آبهای یونان تحقیق می کند.
این مقام وزارت خارجهء افغانستان تایید کرد که در حادثهء غرق شدن کشتی حامل مهاجران افغان ۲۸ افغان جان داده اند. او که نخواست نامش افشا شود در صحبت با رادیو آزادی گفت، پس از وقوع این حادثه تنها یک افغان زنده مانده است.
به گفتهء این مقام یک هیات افغان جهت تحقیق در این مورد به یونان رفته است. وی گفت، این هیات در جهت تثبیت هویت افغان های که در این حادثه جان داده اند کار خواهد کرد.
او افزود، پس از اجرای بررسی ها اجساد این افغانها به خانواده های شان تسلیم داده خواهند شد.

بقیه در صفحه ۴

## د افغانستان د ټولو بدبختیو لامل د جدي د شپږمې پېښه ده

**د افغانستان خلک به دا یرغل او ظلمونه هېڅکله هېر نه کړي، د همدې یرغل په نتیجه کې زموږ ترمنځ بې اتفاقي، بېلوالی او داسې نور بدبختۍ پیدا شوې**

پوځي وسایط او ټانکونه په کابل باندې

کابل، رسنۍ:
افغانان نړدې ټول په دې نظردي چې د افغانستان د موجودو شخړو او ستونزو اصلي علت په ۱۳۵۸ لمریز کال کې په همدې ورځ پردې هېواد د پخواني شوروي اتحاد پوځي یرغل وو.
د پخواني شوروي اتحاد لښکرو له اوس نه درې دېرش کاله وړاندې د جدي یا مرغومې په شپږمه نېټه پرافغانستان پوځي یرغل وکړ او سهار وختي د هغوی عسکر؛

پاتې ۴ مخ

## ایران د افغان کډوالو د ستونزو په هواري کې مرسته نه کوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر له افغان کډوالو سره د ایران چلند له ټولو نړیوالو اصولو په خلاف وباله او دا انتقاد یې وکړ، چې تهران له دوی سره د کډوالو د ستونزو په هواري کې همکاري نه کوي.
ډاکټر زلمی رسول، چې د سې شنبې په ورځ مشرانو جرګې ته وربلل شوی و؛ سناتورانو ته وویل، چې په لومړي سر کې ایراني چارواکو د ۱۳ افغانانو له وژلو انکار وکړ او اوس یې مړي نه سپاري.
د زلمي رسول په وینا که څه هم د ایران په قانون کې د مړو سپارل نشته؛ خو دوی د

پاتې ۴ مخ

## تجاوز و اشغال ۶ جدی و فرجام آن

تورن غلام سخی

صفحه دوم

## مړه یې مه بولئ ژوندي دي

**د نومیالی شهید استاذ سید محمد "محمود څیرک" ژوندلیک**

د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

دریم مخ

## د جدي شپږمه

مولوی عطاء الله "لودین"

**دهغه مقصد لپاره چې ملت قرباني ورکړې وه تر اوسه لاس ته رانغې چې هغه په افغانستان کې امن، ثبات او اسلامي حکومت دی، او د ناامنیو تور خادر زموږ په مظلوم ملت اوس هم خپور دی**

د ۱۳۵۸ کال د جدي شپږمه د افغانستان په معاصر تاریخ کې توره او د بدبختیو ډکه ورځ بلل کېږي. که څه هم د جدي شپږمې څخه وړاندې روسي ګوډاګیانو (خلق، پرچم) ګوندونو د خپلو بادارانو په واسطه د ثور د اومې کودتا ترسره کړې وه او د بدبختیو، جنایاتو، ظلم، وحشت، بې دینۍ، فحشا او د انساني کرامت خلاف نظام پدې مظلوم بې دفاع مسلمان ولس حاکم وو.
اګر که خلکو په ابتدایي شکل ددې غیر انساني او غیر اسلامي نظام په خلاف د جهاد او هجرت لاره نیولې وه، مقاومت شروع،

پاتې دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# د جدي شپږمه د افغانستان د تاریخ یوه کرغېړنه ورځ

د جدي شپږمه د افغانستان د تاریخ هغه کرغېړنه ورځ ده چې په دې ورځ د روسي امپراتوری سرو لښکرو د افغانستان پر خاوره وحشیانه یرغل وکړ او تر خپل اشغال لاندې یې راوست، که څه هم په ظاهري ډول هېچا ګمان نه کاو چې د افغانستان په څېر غریب او پسمانده ولس به د روسي اشغالګرو ځواکونو په خلاف بریالې پاڅون وکړي او هغوی ته به ماته ورکړي خو د تاریخ اتلانو یو ځل بیا نړی والو ته خپل قهرماني ثابته او دا معجزه یې ښکاره کړه چې افغانان د مادي ځواک پر ځای په معنوي ځواک زیات سنبال دي او ددې قابلیت لري چې خپل دښمن د اوسپنې نیني خوړلو ته اړ کړي، د مادي او معنوي طاقتونو ترمنځ په مخامخ ټکر کې بالآخر معنوي طاقت په مادي طاقت غالب او دا واقعیت یې یو ځل بیا ثابت کړ چې که مادي طاقت په ظاهره څومره پیاوړې او ویروونکی وي خو د معنوي طاقت په وړاندې د شګو له دیوال نه زیات اهمیت نه لري. خو له دې واقعیت نه هم باید سترګې پټې نه کړی شي چې د جدي شپږمه افغانانو ته ددې خبرې بلنه هم ورکوي چې په دې اړه ښه غور او فکر وکړي چې ددغې بدې ورځې د راپېښېدو بنسټیز عوامل څه وو، هغه کومه تشه او خلا وه چې په افغانستان کې د کمونستانو د کودتا باعث شو او هغوی د خپل فکري بادار روس په غېږه کې پرې وتل؟ له څه شک پرته ددې ستر عوامل په هېواد کې ظلم سالاري، بې عدالتي، فساد، رشوت، درغلي، لاديني او د عام ولس له حالاتو نه ناخبري و، چارواکي باداران او ولس یې خپل حلقه بګوش غلام ګڼل، خان سالاري، ملک سالاري او اقتدار سالاري هر لورې خپلې تورې وزرې خورې کړې وې. د بیان آزادي له سره نه و، قلمونه بند او پر ژبو د چوپتیا مهرونه لګول شوي وو، اقربا پروري خپل آخري عروج ته رسیدلې و او غریب ولس د ظلم په ژرنده کې دل کېدل، له همدغې تشې او خلا نه په ګټې اخیستنې سره روسان وتوانیدل چې خپل کمونیستي افکار د افغان ځوانانو په اذهانو کې پیچکاري او د لینن او مارکس د پوچو عقایدو پیروان وګرځوي، او د همدې لارې افغانستان خپل مستعمره وګرځوي، دا جلا خبره ده چې دهغه وخت د نظام او کمونستي افکارو مخالفین د لوی الله په فضل د خپل معنوي ځواک پر مټ په دې وتوانیدل چې خپل هېواد دهغوی له فزیکي او مفکوروي استعمار څخه د خپلو لکونو ځوانانو په قرباني وژغوري، مګر له دې بدمرغی نه د همیشنی خلاصون یوائینی لاره داده چې د افغانستان چارواکي او ولس په ګډه د تل لپاره دهغو تشو او خلاګانو مخه ونیسي چې د پردیو د فزیکي او مفکوروي غلامیو باعث ګرځي او دا کار هله ممکن کیدلې شي چې چارواکي په صحیح معنا د خپل ولس خدمت وکړي، عدل او انصاف داسې آسان او یقیني کړي چې د افغانستان هر وګړي وکولې شي له رشوت او واسطې پرته په آسانی سره خپل حقوق ترلاسه او د اطمینان ساه واخلي، د علم او پوهې دروازې د هر افغان ماشوم او ځوان په وړاندې خلاصې او د فکر او عقیدې تشه یې ډکه کړي، د مظلوم ولس د مری د خپه کولو پر ځای ورته د بیان بشپړ آزادي ورکړي او چارواکي د ولس واقعي خدمتګاران جوړ شي، د هغوی له خولې نه د نوړی د ویستلو او د سر سیوري د غصبولو پرځای ورته د ډوډی او د سرپناه بندو بست وکړي او هغوی ته بشپړ ډاډ ورکړي چې ددې خاورې اصلي وارثین تاسې او موږ ستاسې نمایندګان او خدمتګاران یو.

که الله مکړه زموږ چارواکي د تېر تاریخ له درس نه عبرت وانه خلي لکه څنګه یې چې نه دی اخیستې او د پخوا په څېر ولس د غلامی په تیاره کې وساتي، نو ددې امکان هېڅ نشي ردیدلې چې د جدي د شپږمې نه به هم له بدو او کرغېړنو ورځو سره مخامخ او هر څه به مو د پردیو په لاس تالا والا کېږي. الله دې نه کړي.

# تجاوز و اشغال ۶ جدی و فرجام آن

تورن غلام سخی

بعد از ختم جنگ جهانی دوم و گسترش تسلط کشورهای فاتح و مغرور در جنگ، که این دو جنگ در حدود (٤٧) میلیون انسان را در کره زمین از دست داد، علل و عوامل این جنگهای تباه کن و ویران گر همانا خودخواهی ها، غرور حیوانی، غریزه جاه طلبی، سلطه گرایی، اشغال و تجاوز بوده است. که ناشی از طغیان جنون آمیز و خودخواهانه سلاطین جبار، غارتگر کشورهای استعمارگر در طول تاریخ بشر بوده است. در این شکی نیست که استعمار جدید موجود جوادث ناگوار بی حد و حصر تولید کالاها که رشد نابهنگام اقتصاد غربی، صدور سرمایه برای بهره برداری از منابع زیرزمینیهایی دیگر، روابط اقتصادی کشورهای صنعتی استعمارگر از طریق صدور سرمایه و مکانیزم جهانی قیمت ها و مبادله مواد خام با کالاهای ساخته شده بود، که با آوردن فشارهای سیاسی و اقتصادی کشورهای کم رشد را استثمار میکند.

(سوکارنو) رئیس جمهور اندونیزی وقت به این نوع استعمار جدید در کنفرانس باندونک در سال ۱۹۵۵ اشاره کرد و گفت: که در مجالس جدید و از طریق نظارت و تسلط فرهنگی جمع قلیل و متحدی همان هدفهای استعماری کهن را دنبال میکنند. بعد از ختم دو جنگ و تظاهر قدرت های جدید در حوزه های سیاسی و اقتصادی که باعث اندیشه ها و دیدگاه های جدید در روند تکامل انقلابها و مکاتب فلسفی نو گردید. جهان به طرف دو قطبی شدن رفت، استعمار و استثمار قالب های جدیدی را در راستای برآوردن اهداف و مقاصد خویش ایجاد و بخاطر توسعه حیطه سلطه شان و به مقابله پرداخته با بدست آوردن سرزمین ها بخاطر مقاصد سیاسی و اقتصادی اینبار به فکر اشغال عقیده و افکار از طریق زور و تظاهر قوه پرداختند.

در کشورهای که دموکراسی در نتیجه استبداد کلیساها بوجود آمده بود، آنجا اشغال و تجاوز رنگ دیگری داشت و کشورهای که به اساس تفکر مارکیستی پایه گذاری شده بود و همه چیز را وابسته به صنعت و تولید و سرمایه میدانست اشغال و تجاوز محتوای دیگر داشت. تضادمیان این دو پدیده نامیمون حیات تمدن بشری و فرهنگ انسانیت را مورد تجاوز قرار داده و هر روز ما را بطرف نابودی تمدن و حیات بشری در کره خاکی می کشاند. کشورهای متجاوز همه جهان را از عینک زور و ستم می بینند و با اشغال و تجاوز تمام هستی کشورها را می بلعند، تجاوز و اشغال در تمام دنیا یک تعریف و یک مفهوم و یک مضمون دارد، یا تجاوز و اشغال بخاطر بدست آوردن منابع اقتصادی کشورهاست و یا بخاطر تحمیل عقیده سیاسی و توسعه اندیشه های مادی بوده است. تجاوز از زمانیکه در سیاست جا داشته تا امروز با وصف آن از زمان ایجاد جامعه ملل تا اینحال در حقوق بین الدول تعریف دقیقی از آن صورت نگرفته است. شورای امنیت ملل متحد هم نتوانسته است آنرا تعریف کند. موارد کمی دیده می شود که تجاوز در قاموس حقوق بشر تعریف شده باشد. میثاق تعریف تجاوز در سال ۱۹۳۳ بین کشورهای مانند افغانستان، ایران، ترکیه، رومانی و شوروی و استونی امضا شد، که روسها در امضا این معاهده رول اساسی داشتند و تجاوز را مخالف آرمان انترنالیونالیزم پرولتری میدانستند و کشورهای متجاوز را بنام امپریالیزم یاد میکردند. زمانیکه میخواستند به امیال مادی شوم شان دست یابند و خود تجاوز به معاهدات قبول شده شان خود مینمودند و از حدود ناسیونالیزم پاه فراتر گذاشته و به شکل امپریالیزم غارتگر تبدیل میشدند که نمونه آن تجاوز غارتگرانه و اشغال بی شرمانه و مخالف همه موازین و حقوق بین المللی که جهان شاهد آنست همه بخاطر مقاصد، امیال مادی، حکمروایی و تسلط فکری مکتب مارکیسزم و تحمیل این اندیشه بر جامعه بشری بوده است. گرچه اینها توانستند کشورهای اسلامی آسیای میانه و بعضی کشورهای عربی را به بهانه سوسیالیزم و تسلط بر مالکیت خصوصی و عمومی سازی منابع تولید یکی پی دیگری اشغال فکری و نظامی نمایند و ناآگاهانه بدون درک و تحلیل از پابندی مردم مسلمان افغانستان به مقدسات دینی و ارزش های اسلامی شان که امپراطوران مقتدر جهان نتوانستند، این کشور باستانی، سلحشور که فرهنگ اسلامی را از نیاکان به ارث برده اند، اشغال نمایند. و بر آن بواسطه تحمیل اندیشه حکومت برانند، شورویهای مارکیست با پیام رسانی انترنالیوتالیزم و با همرایی هواداران مزدور شان که ناآگاهانه وارد این قلمرو خطرناک و مهلک شدند، به سرزمین مقدس ما در نیمه شب پنجم جدی و در سپیده دم ششم جدی قسمیکه بالای بخارای اسلامی حمله بردند با استفاده از مسلمانهای اسیر تاجک و ازبک که زیر چکمه های کمونیزم در اسارت بودند و همچو غلامان هندی که بخاطر استعمار انگلیس می جنگیدند بر کشور عزیز و اسلامی ما حمله آورد و آنرا اشغال نمودند.

ضرورت است این جا توقف کوتاهی بخاطر روشن شدن مسئله نموده تا تجاوز بالقوه و اشغال شورویها را در افغانستان تفسیر نمائیم. داود خان که انسان مغرور و پرماجرای بود باوجود خشمیکه در برابر استعمار داشت و طرفدار استقلال و آزادی افغانستان بود ناآگاهانه و جاهلانه بدون درک شرایط آنزمان و تحلیل اوضاع جهانی از نظر قدرت های بزرگ وقت در زمان صدارتش دچار بحران فکری گردیده و بواسطه عوامل فریبکار کمونیزم در دستگاه حکومتش بطور ناگهانی بخاطر بدست آوردن چند میل اسلحه و چند عراده تانک و هواپیما با بستن معاهده ناکام با رئیس جمهور خروسچف وبولگانین صدراعظم (شوروی وقت) در دامن سقوط کرد.

با فرستادن جوانان وطن بخاطر تحصیل در اکادمیهای نظامی شوروی زمینه توسعه افکار مارکیستی را در وطن عزیز ما مساعد ساخت. آرام آرام حزب دموکراتیک خلق که متأثر از افکار مارکیستی شوروی بود زمینه رشد فعالیت های غیر اسلامی خود را در این دوران بهتر پیدا نموده و به توسعه و گسترش آن پرداخت. طبیعتاً در برابر عقیده غیر اسلامی در یک کشور که فطرتاً اسلام با نام آن (افغانستان) گره خورده است قوتهای فکری بمیدان میأیند تا مانع گسترش الحاد و بیدینی در سرزمین مقدس شان شوند نهضت اسلامی افغانستان که تازه از بین توده های مسلمان و مؤمن پا به عرصه دفاع از مقدسات دینی شان گذاشته بودند صدای مقاومت را در برابر اندیشه مارکیزم بلند نمود. داودخان با اشاره دستگاه رهبری روس (کریملین) به گرفتاری جوانان مسلمان پرداخت و رهبران آنرا چون شهید انجنیر حبیب الرحمن، شهید داکتر عمر، شهید مولوی حبیب الرحمن و شهید خواجه محفوظ به عنوان اشوبگران آنها را با گلوله و مسلسل بسته و شهید ساخت. از این هم پا فراتر نهاده و به دستگیری همه جوانان، استادان و محصلینیکه در دفاع از مکتب توحید و انسانیت برخاسته بودند امر صادر نمود. بالاخره داود خان که فاقد عقلانیت سیاسی و دینی بود در برابر دو جریان خطرناک که هر لحظه حکومتش را تهدید می نمود قرار گرفت، با توجه و رهنمایی کشورهای اسلامی و تمایلات جدیدش بسوی پاکستان که پاکستان از حامیان امریکا در منطقه و سایت ) containment به معاصره کشاندن شوروی و پیمان وارثا) بود همچنان قبلاً نماینده رئیس جمهور امریکا بنام فلیپ بخاطر شامل شدن افغانستان به پیمان سیتو در سال ۱۹۵۱ به افغانستان آمده بود زمانی سرهوش آمد که وقت گذشته همه چیز منتظر یک طوفان بود. روسها از زمان صدارت داود خان به تجاوز بالقوه آغاز نمودند و در آخرین روزهای جمهوری داودخان فرصت طلایی به روس ها دست داد که تمایلات داود خان به سوی ممالک اسلامی بیشتر شده می رفت و تصمیم وی بخاطر فلج ساختن فعالیتهای کمونیستی در افغانستان. روسها را به وحشت انداخت که منجر به سقوط جمهوری داود خان و کودتای ننگین هفت ثور گردید. هواداران جماهیر سوسیالیستی شوروی چون تره کی، حفیظ و ببرک و نجیب یکی پی دیگری بقدرت رسیدند، روسها پلان تسخیر افغانستان را از معاهده پنجده به اینطرف در سر داشتند میخواستند افغانستان را که حیثیت منطقه حائل را بین دو قدرت جهانی در منطقه داشت، عبور نمایند و خود را در مقابله با امریکا و رساندن به ابهای گرم خلیج و بحر هند حلقه استراتیژیک امریکا را که به اطراف کشورهای اسلامی کشیده بود، بشکناند و عقاید ماتریالیستی خود را که شعار انترنالیونالیزم پرولتری را دربر داشت در منطقه جنوب آسیا و آسیای میانه ترویج نموده و استیلا و قیادت منطقه و گوشهٔ از جهان را بدست آرند، مگر خطر محسوس که اینها را تهدید میکرد مقاومت بیدریغ و تحمل قربانی و مبارزات خستگی ناپذیر مردم مسلمان افغانستان که استعمارگران بخصوص استعمار انگلیس شاهد شکست ها و فروپاشی قدرت جهانی اش در همین سرزمین بود. روس ها بدون توجه به این واقعیت تاریخی در روز شش جدی با ندای انترناسیونالیستی و شعار کشور شوری ها دوست و برادر مردم افغانستان از طریق رادیوی چکوسلواکیا بواسطه ببرک کارمل آغاز حملات شان غرض اشغال افغانستان گردید. گرچه روس ها در زمان حفیظ الله امین در تمام قطعات نظامی و دولتی حضور داشتند و امین بود که خواستار آمدن بلاقید و شرط روسها به افغانستان شده بود می خواست خود را از خطرات که از طرف هواداران خلق تره کی و پرچمیان تبعید شده کارمل در امان نگهدارد. مگر روسها بدیدهٔ شک و عدم اعتماد به امین می نگریستند که بالاخره با ترور امین و به بهانهٔ اینکه امین با پاکستان و امپریالیزم در منطقه کنار آمده زمینه اشغال بیشتر مساعد گردید سپیده دم شش جدی افغانستان بدون درنظر داشت و رعایت اصول اساسی حقوق بین الدول و اصل رعایت معاهدات بین المللی و اصل مداخله در امور کشورها بواسطه قوای ۱۵۰۰۰۰ نفری از سرزمین های محکوم و در بند آسیای میانه و اروپای شرقی مجهز با چندین هزار توپ تانک، هیلیکوپتر گنشپ ها و هواپیماهای غول پیکر، جت های مدرن جنگنده MIC27 و عساکر تا به دندان مسلح با زرق و برق نظامی (۳۰) فرقه پیاده نظام مجهز با انواع اسلحه و مهمات مدرن، راکت های زمین به هوا، هوا به زمین راکت های دور برد چون اراگان ها، اسکاردها وغیره آلات و ادوات حربی از فضا و زمین افغانستان مسلمان را اشغال نمودند. با گذشت یکروز از تجاوز و اشغال با خصلت ضد اجنبی و حاکمیت بیگانگان که مردم این خطه مرد خیز و قهرمان پرور دشمن ستیز دارد رادمردان مؤمن و مجاهد سربکف در یک جنگ نابرابر و رویاروی بر ضد این تهاجم قیام نموده و بر تمام پادگانهای نظامی و مراکز استخباراتی دشمن یورش بردند و صدها نفر از قشون مهاجم روسی را به کام مرگ فرستادند.

برژنیف سردمدار کرملین با دیدن این اوضاع بخشم آمده فوراً امر برگشت قوتهای تاجک و ازبک را بخاطر بی اعتمادی اش بالای آنها به شوروی صادر نمود و بالای عناصر خلق و پرچم حاکم در کابل به غضب آمده و آنها را مورد عتاب و سرزنش قرار داده از همین لحظه رویایی تسخیر افغانستان و عبور از این پل استراتیژی به سرابی مبدل گردید گرچه افغانستان از نظر داشتن ذخایر نفتی غنی و منابع اقتصادی در مقایسه با سایر نقاط جهان ضعیف بوده، ولی از نظر اتصال بخاطر رسیدن به سرزمین های شرق میانه، خلیج فارس و منطقه حیثیت نقطه استراتیژیک و جیوپولیتیک را داشته که با گذشتن از این خط قرمز استعمار شوروی میتوانست کمربند اقتصادی امریکایی ها را با همپیمان آن ها در منطقه و گوشهٔ از جهان تهدید نمایند. همچنان روسها تمایل بیشتری به تقرب شان به سرزمین هندوستان هم داشتند میخواستند در دوستی با کشورها و هند که در آنجا هم نوعی اقتدار سوسیالیزم و کمونیزم به سبک روس موجود از آن کشور هم بخاطر مقاصد شان استفاده نمایند. مگر جهاد و مقاومت بیدریغ و کفرشکن مردم سلحشور افغان مانع آن شد که بتوانند از این معبر استراتیژیک عبور کنند. بالاخره اینها بعد از ١٤ سال جنگ زبونانه و شکست خورده با تحمل تلفات سنگین و با از دست دادن ۲۰ هزار کشته و صدها ملیارد دالر خساره با آخرین سرباز شان پل دوستی حیرتان را عبور نمودند. جنرال شکست خورده شان گروموف اعتراف نمود که: ما در افغانستان اشتباه بزرگی را مرتکب شدیم. بلی! مقاومت، ایمان، شهادت، جهاد، هجرت، تحمل قربانی ها و تو کل به خدا میتواند بزرگترین طاقت های طاغوتی جهان را بزانو درآورد و عظیم ترین کاخهای استعماری را به خاک یکسان نمایند و اشغالگران را درس بدهد که بازماندگانشان قصد تجاوز و اشغال را بالای کشورها آزاد و سربلند نداشته باشند بجاست اگر بگویم انقلاب اسلامی مردم افغانستان که تجاوز و اشغال شش جدی باعث طغیان انقلاب و خشم مردم آن گردید. صفحه از تاریخ بشر را پشت و رو کرد. بعد از انقلاب فرانسه بزرگترین انقلاب در سطح منطقه و جهان بوده است. انقلاب فرانسه فقط بخاطر برانداختن حکومت شوالیه های اروپایی و خاندان لوئی ها که مبارزه برضد مظالم کلیسا و ایجاد نظام جمهوری بوده است، پیام دیگری نداشته و جلو هیچ استعماری را نگرفت صرف دموکراسی را به ارمغان آورد که سرانجام بواسطه دانشمندان بزرگ آن چون روسو و مونتسیکیو جامعه دموکراسی هم مورد تردید قرار گرفت. مگر انقلاب افغانستان که انقلاب فکر و اندیشه بشری بوده مکاتب بی خدای را در سراسر گیتی از بین برد و هواداران و نظام های تحمیلی کمونیستی آنرا در قاره اروپا که مرکز اصلی اشاعه این فلسفه بود بالاخره در جایگاه اصلی اش کاخ کریملین بزانو درآورد.

میتوانیم ما این انقلاب را انقلاب جدید در تاریخ سیر تفکر و اندیشه بشری بدانیم که سبب رهای میلیونها انسان فقیر و رنج کشیده گردیده و لازم است که در آرشیف تحولات بشری با خط زرین و طلایی حک گردد. تا جوامع مستقل و آزادیخواهی بشری آنرا سرمشق آینده گان خویش قرار دهند، و در برابر اشغال، تجاوز ظلم متجاوزین و اشغالگران همچو جهاد و مقاومت مردم افغانستان ایستادگی نمایند.

**پیامدهای این اشغال و تجاوز:**

- محوه سلطه سیاسی و اقتصادی کمونیزم در جهان
- آزادی کشورهای که در تحت استعمار شوروی قرار داشتند
- آزادی کشورهای اروپایی شرقی از تسلط سیاسی و اقتصادی شوروی
- از بین رفتن بلاک شرق و پیمان وارثا
- تجدید وحدت دو آلمان در اروپا
- محوه کامل رژیم استبدادی کمونیستی در روسیه
- از بین رفتن فلسفه و نهضت های کمونیستی و مارکیستی در جهان
- به میان آمدن دولت لیبرال و ایجاد دموکراسی در شوروی
- یک قطبی شدن جهان
- بیداری نهضت اسلامی در منطقه و جهان
- سقوط رژیم های دست نشانده در منطقه و جهان
- از دست دادن تمام منابع اقتصادی روسها در سرزمین های تحت حاکمیت شان
- آزادی کشورهای آسیای میانه و مناطق مسلمان نشین
- تغییر در توازن قوای شرق وغرب
- مجهز شدن پاکستان با اسلحه اتمی
- پیروزی مجاهدین و ایجاد حکومت اسلامی در افغانستان
- آغاز قیام ها و جنبش های ضد استعماری در جهان

# د شهید استاد محمود "ځیرک" یاد

ډاکتر اسدالله ښالیز

میندې میړنې زېږوي، میړنې سربښندنې کوي او د ځان په بیه خپل ملت او تاریخ ته وياړبخښي، روغ ملتونه اخلاقاً خپل مکلفیت ګڼي چې د هر سربښندونکي سربښندنه په زړونو کې خوندي پاتې شي. د فکري تېکرونو، اوښتونونو او نظامونو د بدلېدا رابدلېدا جفا داوي چې کله ناکله تاریخ هم دانساني فکر په ځبر د بل د تپ او اغېز لاندې راشي او د پرون درواغ پر نننيو رښتياوو لاسبري کړي. دا دتاریخ جبراوله خپلوولسونوسره دحاکمونظامونونااتصافي نومولی شو. خوداهرڅه وختي اوزماني توپيرونه دي اوچې کله انسان دخپل درک اوشعورلوړوته سيخ شي،هله کولای شي دښو ـ بدو د تمیزمتره بیامومي.

د افغانانو جهاد که له سیاسي پلوه نړېوالو ته په تش لاس د څه کولو هنر ورزده او د خپلواکې تر لاسه کولو لارې يې وروښودې، د کور دننه يې هم د تش په نوم تمدن او عصریت پلویو فکرونو خاوندانو ته ورروښوده چې له کورني نظم و نسقه نیولې تر ټولنیز او دولتي نظامه پورې، هر څه د اسلام په سپېڅليو احکامو کې خوندي دي او د ژوند او ابد د خوندیتابه لپاره تر دې بل هیڅ ډول سیستم او تیوري نشي کولای د ولسونو او دولتونو بقا تضمين کړي.

د نړۍ زېرځواکي په افغاني ټولنه کې د فکري يرغل او اذهانو د ښکار کولو تابيا کړې وه او دا د عام ولس په خیال او ګومان کې هم نه راتله چې د خپلو په مرسته به د پردو د موخو قرباني کېږي، ديني او ملي ارزښتونو ته به يې ګواښ متوجه کېږي او د وخت په تېرېدو سره به پخپله د غلامۍ یوغ په غاړه کوي. د دې مسلې لپاره عملاً مبارزې ته اړتیا وه، د ولسونو د ويښتابه لپاره زهیرتیا ته ملا تړل و، خو د مستو ځپو مستو پلویانو په شتون کې، د دين او ولس لپاره رسا لارې په ګوته کول د ژوند په بيه تمامېده او دې موخې ته رسېدا د عام سړي له وسه وتی کار و. دا د ملي ويښتيا مسله وه او هر د حساب سړي ته پکار وه چې تر خپله وسه د وګړو د بيدارۍ لپاره لاس په کار شي. په همدې حساس حالت کې د فکري يرغلونو مخنيوی ته منظم خوځښتونه پیل شول او په ختيځه سیمه کې د نورو مخکښانو په ډله کې يو هم شهید ښوونکی سید محمود (ځیرک) صاحب و.

استاد محمود ځیرک د خپلې عقیدې، ملي او اسلامي مکلفیت له مخې تر بلې هرې پربکړې په لومړي قدم کې همدې ټکي ته مخه کړه، ده (شهید ځیرک صاحب) درک کړې وه چې که د ځوان کهول د ويښتابه لپاره څه کولای شي نو تر ښوونيز چاپېرياله روزنيز چاپېريال لا ډېر ګټور ثابتېدای شي. استاد همداسې وکړل، ملا يې وتړله او عملاً د خپل ديني او اخلاقي رسالت تر سره کولو ته لاس په کار شو. د جهاد د وختو ډېرې کارنامې يې ښايي د تاریخ پاڼو ته ځلا او ښکلا وربخښلې وي، له ډېرو به يې د سربښندنې، میړانې او شهامت ښېلګې پټې نه وي، خو د همدې سیمې د يو استوګن په توګه د اوربدو له مخې ما تر اوسه داسې څوک نه دی ليدلی چې د استاد ځیرک صاحب د سپېڅلتيا، رښتيني مسلمانۍ او د الله (ج) په لاره کې د سربښندنې جذبې درلودو په هکله يې، د ستنې د ځوکې هومره دوه زړی شي.

وايي چې که د کور لپاره د چوپړ خیال لري نو له ځانه به تېرېږي او که د ټولنې لپاره چوپړ ته زړه ښه کوي، نو له کورنۍ به تېرېږي. ځیرک صاحب د خدای (ج) او ټولنې لپاره دويمه لاره غوره کړه او وې ښوده چې د ده هره خواري د ولس، هېواد او ديني ارزښتونو خوندیتابه ته ده او تر دې پورته بله موخه نلري. ځیرک صاحب د خدای (ج) او ولس لپاره قرباني ورکړه او خپلې موخې ته ورسېد. د ده موخه د الله (ج) رضا خپلول او خپل ولس ته صراط المستقیم په ګوته کول و او بس.

د سپېڅلتيا او خاورپښتوب بله داسې ښېلګه به کومه وي چې يو څوک دې د پرېمانه شتو امکاناتو سره سره د ځان او کورنۍ انساني غوښتنې او اړتیاوې له پامه وغورځوي؟. ځیرک صاحب د دنیا مال ـ متاع ته خواري عبث ګڼله او همدا وجه وه چې خپلو پاتې شونيو ته يې د دوه خامو کوټو کور په میراث نه دی پاتې، ده د افغانانو له جهاده د افغانانو غوښتنه ښه تمثیل کړې او همدا د يوه سپېڅلي مجاهد تر ټولو ستر ارمان بايد وی چې څه لري، هغه تر خپل دين او ملته ځار کړي، نه دا چې د ملت د سربښندنو په بيه يوازې ځان او کورنۍ ته د ژوند (وقتي) اسانتیاوې برابرې کړي.

زه به دا يوه خبره د زړه له تاوه او تر ډېره د خپلو احساساتو له مخې رامیدان ته کړم چې د جهاد د وياړ شمله يوازې د هغو پر سر ده چې د سپېڅلتيا او رښتيني مسلمانۍ کیسې يې نه زړېږي، د ولس په زړونو کې نقش شوي وي او چې تر څو د جهاد حماسه د تاریخ په پاڼو کې خوندي وي، د تلپاتې ياد ثبوت ته به يې د ځیرک صاحب په څېر د پاکو مجاهدينو ياد ولس ته د وياړ شملې ور پر سروي.

د ځیرک صاحب په څېر هر مجاهد ته لاس په دعا.

# د جدي شپږمه

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...سنګرونه او جبهات فعال شوي وو خو عمومي پاڅون او د عامو خلکو هجرت لا نه و شروع شوي کله چې په ۱۳۵۸ کال د جدي په شپږمه د وخت لوی پوځي ځواک شوروي اتحاد د ټولو بين المللي او انساني موازينو او کرامت په خلاف پر افغانستان زمکنی او هوايي يرغل له لارې افغانستان اشغال کړ، ببرک کارمل خپله لومړنی راديويي وينا د تاشکند څخه واوروله نو دغه ورځ د افغانستان په معاصر تاریخ کې د بدبختيو د شروع او د توری ورځې په نامه ياده شوه.

واقعيت دا دی چې ددې ورځې څخه وروسته څه دپاسه د دولسو کالو په اوږدو کې هغه څه وشول چې د بشريت او اسلاميت تاریخ وربانـدې شرمېږي او وربانـدې لعنت وايي.

د کمونيزم د مخالفينو په نامه ځوانان، سپین ږيري، علماء او محصلين ونيول شول، زرګونه کسان يې له محاکمې پرته ووژل او خاورې لاندې کړل. شپږ ملیونه د هېواد نه بهر مهاجر او څلور ملیونه نور په هېواد کې دننه د يو ځای څخه بل ځای ته په کډه شول.

د۱۲ کلو جنګ په جریان کې دهېواد ۸۰ فيصده آبادي د خاورو سره خاورې شوه.

د هېواد دوه ملیونه مسلمان وګړي ښځې او سړي په شهادت ورسېدل، په لکونو معيوب شول او همدومره کونډې او یتيمان پاتې شول خو ددې با شهامت ملت د مقاومت په وړاندې کمونيزم او روسي سرو لښکرو نه يوازې په افغانستان کې بلکه په ټوله دنيا کې ماتـه وخوړه، د کمونيزم کاذب ټغر ددنيا څخه ونغاړل شو، د وارسا تړون له منځه ولاړ، روسان د فقر او لوږې سره مخامخ شول او کچکول په غاړه د غرب دروازو ته ودرېدل تر څو خپلو عسکرو ته يوه مړۍ ډوډۍ پیدا کړي.

روسانو ددې ظالمانه تجاوز څخه فايده ترلاسه نکړه او زيات مادي او معنوي تلفات يې وليدل، تقريباً پنځه ديرش زره عسکر يې د مقدس جهاد په دوران کې زخميان او له ۱۳ زرو څخه زيات يې ووژل شول او له درې سوو څخه زيات يې ژوندي ونيول شول.

دا ټول د افغان مسلمان ملت د قربانيو او سرخندنو په نتيجه کې ترسره شو.

متأسفانه بيا هم دهغه مقصد لپاره چې قرباني ورکړ شوی وه تر اوسه لاس ته رانغله چې هغه په افغانستان کې امن، ثبات او اسلامي حکومت دی. اوس هم د ناامنيو تور څادر زمونږ په مظلوم ملت خپور دی او د ناامنيو په اور کې سوځي. د مختلفو دلايلو په نامه جنګ دوام لري او د افغانانو قربانيو لاتراوسه رنګ ندی راوړی، دهغې ورځې په امید چې جنګ او بې ثباتي نه وي او د خلکو د خوښې يو اسلامي عادل نظام حاکم شي.

# مړه يې مه بولئ ژوندي دي

## د افغان مقدس جهاد د سپېڅلو شهیدانو یاد

## د نومیالي شهید استاذ سید محمد "محمود ځیرک" ژوندلیک

استاذ سید محمد ځیرک د میرزا پاینده محمد خان ځوی په خته مومند او په ۱۳۲۹ لمریز کال د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د ګوشته والو په یوه متدینه او دینداره کورنۍ کې زېږدلی دی، په ۱۳۶۶ لمریز کال د قلعه اخند په لومړني ښوونځي کې شامل شو، څرنګه چې کورنۍ يې په دین مینه کورنۍ وه نو ديني زده کړو په برخه کې يې هم پاملرنه کوله، شهید ځیرک په ۱۳۴۲ لمریز کال د قلعه اخند لومړی ښوونځي څخه فارغ او په همدې کال مراد علي لیسه کې شامل او په ۱۳۴۸ لمریز کال د نوموړي لیسې څخه په عالي درجه فارغ شو او د فراغت سند يې ترلاسه کړ، له يوې خوا يې کورنۍ ستونزې او له بلې خوا د معلمۍ سره زیاته مینه د لوړو زده کړو مانع شوه او په ننګرهار لیسه کې د ښوونکي په حیث مقرر شو.

د مقررۍ څخه يې لږې شپې ورځې تېرې وې چې د استاذ مولوي محمد ابراهيم «همیم» له لوري اسلامي تحریک ته دعوت شو او ده هم دې بلنې ته لبیک ووایه او ددغه مجاهد او فاضل استاذ لارښوونو سره سم يې د تدریس تر څنګ د اسلامي دعوت دنده هم په غاړه درلوده او تل به يې شاګردانو ته د وخت طاغوتي حکومت مفاسد او مظالم ور په ګوته کول او د ناروا او تیريو په مقابل کې به يې مبارزې ته تشویقول.

شهید استاذ ځیرک وروسته له څه مودې د کامې ولسوالۍ مراد علي لیسې ته د ښوونکي په توګه تبدیل شو او هلته يې هم خپله اسلامي وجيبه شاته و نه غورځوله او په دې لار کې يې تر پخوا ګړندي ګامونه واخستل او وروسته له دوه کالو د کابل ولایت د تخنیک ثانوي لیسې ته تبدیل شو او تر ۱۳۵۷ لمریز کال پورې هلته د ښوونکي په حیث پاتې شو چې په دې موده کې يې هم زیات شمیر شاګردان او د نوموړي لیسې ډېری ښوونکي اسلامي تحریک ته دعوت او تنظيم کړل، په ۱۳۵۷ لمریز کال د ننګرهار ولایت د خوږیاڼو د ملک یار هوتک لیسې ته تبدیل شو.

چې په همدې کال د ثور کرغیړنه کودتا تر سره شوه او دهغه اسلامي مسئولیت تر پخوا لا زیات شو او د اسلامي دعوت په لار کې يې ټولو ستونزو ته اوږه ورکړه او په پوره ایمانداری او جرأت يې د ثور ناولي کودتا شوم پلانونه خلکو ته افشاء کول او د هغې په مقابل کې جهاد او مبارزې ته اماده کول؛ مګر دښمنان هم د ده حرکاتو ته ښه متوجه ول هماغه و چې لږه شیبه وروسته ننګرهار لیسې ته تبدیل شو.

مګر د دښمن دې ټولو نادودو د الله تعالی په مینه مست ځیرک په تصمیم کې خلل او ضعف رانه وست بلکې لا پسې ایمان او عقیده يې ټینګیده، کله چې ننګرهار لیسې ته د ښوونکي په توګه ولیږل شو د ننګرهار په مختلفو برخو لکه کامه، خوشګنبد، کاریز کبیر، خیوه، کاشکوټ، دره نور او خوږیاڼو کې يې د اسلامي تحریک سازمانونه تشکیل کړل چې يواځي په کامه کې يې د تنظیمونو د هستو شمیر ۱۳ ته ورساوه.

استاذ ځیرک د ۱۳۵۸ لمریز کال د ثور د اومې په شاوخوا کې د جلال آباد په ښار کې د عملیاتو لپاره تیاری ونیو او يو شمېر مجاهدو او متعهدو ورونو سره د جلال آباد ښار ته هم داخل شول مګر د ځینو موانعو له امله چې سمدلاسه پیښ شول عملیات يې وځنډيدل او وروسته له څه مودې شهید ځیرک پاکستان ته مهاجر شو او ۱۳۵۸ لمریز کال د اتمې میاشتې په ۲۷ نیټه د کامې د نوی تشکیل شوی جبهې سره چې شهید احمد هجرت يې قوماندان ؤ د جبهې د مرستیال په توګه د جهاد تاوده سنګر ته ولاړ.

د شهید ځیرک نیکو اخلاقو د جبهې د مجاهدینو او چاپېریال د خلکو توجه خانته را جلب او په لږه موده کې يې د مجاهدینو په منځ او ولس کې په نیکو اخلاقو، تقوی او صله رحمۍ شهرت وموندہ نو ځکه د ولس د هر مسلمان کور د ده کور ؤ. دغه نومیالي شهید د شهید هجرت تر څنګ د جبهې د تنظيم او جهاد د چارو په پرمختګ کې فعاله او تانده ونډه واخیسته او د نوموړي د زیاتو هلو ځلو نتیجه وه چې د کامې، ګوشتې او خیوې ولسوالۍ ترڅنګ د لعلپوري علاقه داری، ګریک، کاشکوټ، کوټې او تاران پوستې هم فتحه شوی او مجاهدینو ته ډېره وسله او غنیمت په توګه په لاس ورغله، کله چې شهید احمد هجرت د ځینو مصلحتونو په اساس د جهاد لپاره د سرخرود ولسوالۍ ته ولاړ...

پاتې څلورم مخ

# راشه د بلي دي خبر کړم!

عبدالله کامه وال

## په نړۍ کې کوم خلک ډیر چایي څښي؟

که چیرې په نړۍ کې د چایو د ډیر استعمال خبره کیږي نو ممکن د پښتنو په ذهن کې سمدستي همدا وګرځي چې پښتانه پدې برخه تر هرچا مخکښ دي ځکه له سهاره نیولې تر ماښامه زموږ خلک خپل ډیر وخت د چایو په څښولو تیروي او کیسې کوي خو داسې نه ده ځکه د خوړو نړیوالې ادارې اوس معلومه کړې ده چې په نړۍ کې د چین خلک د چایو په څښلو کې تر ټولو مخکې دي.

د خوړو نړیواله اداره وایي چین چې بې شمیره نفوس لري خلک یې د کال څه د پاسه لس لکه ټنه چایي استعمالوي.

د چین خلک د پښتنو په شان نه دي چې یواځې چایي څښي او نور کرار ناست وي بلکې دوې چایي هم څښي او کار هم کوي ځکه خو یې هیواد د نړۍ په کچه دلومړیو اقتصاد لرونکو هیوادونو په کتار کې راځي.

پدې راپور کې د هندوستان خلک په دوهم نمبر کې راځي، په راپور کې راغلي چې د هندوستان خلک په کال کې نږدې اته نیم لکه ټنه چاي څښي، او په همدې ترتیب بیا په ټوله نړۍ کې نږدې څلوېښت لکه ټنه چایي استعمالیږي چې څه کم نیم یې چین او هند استعمالوي.

چین او هند په نړۍ کې د چایو ستر تولیدونکي هیوادونه دي.

### د نومیالی شهید استاذ سید محمد...

...نو د کامې او ګوشتي ولسوالیو مسئولیت د شهید خیرک په غاړه شو.

څه موده وروسته د ګوشتي ولسوالی د عمومي قوماندان په حیث وټاکل شو چې دوه کاله یې دغه درنه دنده په پوره ایمانداری، صداقت او پراخه حوصله پر مخ بوتله، هغه وخت چې شهید مولوي غلام صدیق خداي دوست د کامې د جبهې عمومي آمر په توګه تعین شو شهید خیرک یې د مرستیال په حیث وټاکل شو چې دواړو د ژوند تر پایه په دې لار کې په پوره صداقت خپلې دندې پر مخ بیولې او دواړو به په عملیاتو کې په مستقیمه توګه ونډه اخیسته او یو ځاې به یې د دښمن په پوستو حملې کولې. د شهید خیرک د شهادت نه ۲۵ ورځې وړاندې شهید خداي دوست او شهید خیرک د کامې د میرزاخیلو په برخه کې د دښمن په یو قطار حمله وکړه چې په نتیجه کې د دښمن یوه عراده ټانک له منځه ولاړ او مولوي غلام صدیق خداي دوست د شهادت لوړ مقام ته ورسید، د شهید خداي دوست جنازه د شهید خیرک له خوا د جنګ ډګر نه راپورته شوه او پېښور ته یې راوړه، له دې پیښې نه ۲۵ ورځې وروسته په ۱۳۶۱ لمریز کال د ۶مې میاشتې په لسمه نیټه استاذ خیرک د دښمن په یوه پوسته حمله وکړه او زیات شمیر ملحدان یې له منځه یوړل خو نوموړی هم خپل هغه هدف ته ورسید چې څلور کاله ورپسې په غرو او رغو ګرځیده او د شهادت مقام یې وګاټه. انا لله و انا الیه راجعون، د شهید خیرک څخه دوه زامن او یوه لور پاتې شول.

تاچې د نورو جنازې وړلې په خپلو اوږو
اوس دی پخپله مبارک ــه شهادت خیرکه

***

په ژوندون چې دې زما ونه کړ قدر
پس له مرګه مې بیا مه ژاړه په قبر
چې په ژوندون کې مې په کانو ګټو ولی
خړو خاورو نه مې هم کړه بیا زړه صبر

***

د شهید خیرک یوه قطعه شعر چې شهید احمد هجرت ته یې کښې مخاطب و:

د وفا په لاره تلل څه اسان نه دی
ځان په بل قربانول څه اسان نه دی
تش په خوله باندی به هر سړی متین وي
منزل سرته رسول څه اسان نه دی

***

دهر رازونه د ژوندون په کې پراته دي
که په خیر خیر مې لږ وګورئ تصویر ته

***

په غرونو سر وي د هدف د لیلی لټه کې وي
آخر شوی وصل مبارک دی شه وصلت خیرکه
د الهي قانون انفاذ لپاره سر نه تیر شوی
مبارکي درته اوس وایو د جنت خیرکه

***

### زنی که مشاور امریکایی را در...

را به گونهء غیر قانونی به دست آورده است:

"این خانم تبعهء کشور ایران است، اسنادی که به دست پولیس افتاده شما کاپی پاسپورت را می بینید که تابعیت کشور ایران است.

به اساس خواست و ضمانت تذکرهء شوهرش که افغانی است، تذکرهء تابعیت افغانی را به دست آورده است.

تحقیقات ما نشان می دهد که گرفتن تذکرهء وی نیز غیر قانونی بوده و با این ترتیب شامل پولیس شد."

سخنگوی وزارت داخلهء افغانستان همچنان گفت که تحقیقات پولیس نشان می دهد که این زن دچار مشکلات روانی نیز است.

صدیقي می گوید: نرگس برای فرا گرفتن یک دورهء آموزشی با تعدادی از نیروهای پولیس به مصر نیز فرستاده شده بود که مشکلات روانی وی در آن کشور نیز تایید شده است.

به گفتهء آقای صدیقی، تحقیقات ابتدایی نشان می دهد که این حمله انگیزهء شخصی داشته و یک عمل فردی بوده است.

اما وی می افزاید، عوامل دیګر را در این رویداد نیز رد کرده نمی تواند و این مساله نیاز به تحقیقات بیشتر دارد.

با این حال جنرال ظاهر رییس تحقیقات جنایی قوماندانی امنیهء ولایت کابل می گوید: نرگس در جریان تحقیقات اش اعتراف کرده که نخست قصد داشت یک مقام دیګر افغان را هدف قرار دهد:

"در جریان تحقیقات خود می گوید که من می خواستم این کار را انجام بدهم و قصد داشتم قوماندان شهر یا رییس تحقیقات جرایم جنایی یا والی و یا کدام مقام دیګر را که با من روبرو گردند، هدف قرار دهم.

وی حالت متعادل خوبی ندارد یعنی مشکل روانی دارد. او گفته است که من از زنده گی سیر آمده بودم و می خواستم کاری را انجام دهم و بالاخره این کار را انجام دادم."

جنرال ظاهر همچنان گفت که شوهر این زن نیز بازداشت شده زیرا او برای خانم اش به گونهء غیر قانونی تذکرهء تابعیت افغانی گرفته است.

به گفتهء آقای ظاهر، از دو پولیس زن دیګر در قوماندانی امنیهء ولایت کابل نیز به اتهام غفلت وظیفوی تحقیقات آغاز شده اند.

هر چند وزارت داخلهء افغانستان می گوید، حمله کنندهء روز دوشنبه بر یک مشاور امریکایی در داخل قوماندانی امنیهء کابل مشکلات روانی داشته اما پرسش های زیادی در این زمینه تا هنوز بی پاسخ مانده اند.

برخی ها می گویند، اگر این زن دچار مشکلات روانی بوده پس چگونه از مقر وزارت خارج شده و در داخل قوماندانی امنیه فرد مشخصی را هدف قرار داد.

در عین حال مقام های افغان می پذیرند که برخی از حلقات استخباراتی منطقه و مخالفان مسلح تلاش دارند تا جلو روند آموزش نیرو های امنیتی افغان را بګیرند که از سوی ناتو ادامه دارد.

### د افغانستان د ټولو بدبختیو ...

ولیدل شول.

خبرونکي وایي، چې د پخواني شوروي اتحاد یرغل افغانستان ته خورا زیات سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، ټولنیز او داسې نور زیانونه واړول او دا هیواد یې د ګاونډیو، سیمې او د نړۍ د ځینو نورو هیوادونو د مداخلو په ډګر بدل کړ.

د سیاسي چارو څیړونکی عبدالباري راشد وایي، چې پرافغانستان د پخواني شوروي پوځیانو د یرغل اغیزې اوس هم له ورایه ښکاري او ښایي. چې کلونه نور هم دوام وکړي:

"د شوروي اتحاد له یرغل نه وروسته افغانستان په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او روزنیزو برخو کې له ډیرو ستونزو سره مخامخ شو چې لاهم پای ته نه دي رسیدلي.

د افغانستان خلک به دا یرغل او ظلمونه هیڅکله هیر نه کړي. د همدې یرغل په نتیجه کې زموږ ترمنځ بې اتفاقي، بېلوالی او داسې نور بدبختی پیدا شوې."

د راپورونو پراساس درې دیرش کاله وړاندې په همدې ورځ څه باندې پنځه ویشت زره شوروي پوځیان په یو وار افغانستان ته راغلل؛ چې هوایي ځواکونه او پیاوړې پوځي تجهیزات هم ورسره وو او وروسته په دې هیواد کې د شوروي سرتیرو شمیر څه باندې یو نیم لک تنو ته ورسید.

شوروي ځواکونو د ببرک کارمل په بلنه پرافغانستان پوځي یرغل وکړ، حفیظ الله امین ووژل شو او کارمل له تاشکند راډیو څخه د امین د رژیم د ړنګیدو اعلان وکړ:

شوروي سرتیرو د شپې له مخې پرافغانستان یرغل وکړ او د کابل اوسیدونکي سهار کله چې له خوبه پاڅیدل نو د توقع خلاف یې د کابل ښار په واټونو کې شوروي پوځیان او پوځي وسایط ولیدل.

د افغانستان خلک د تاشکند له راډیو څخه د ببرک کارمل له خوا د حفیظ الله امین د ژریم د نسکوریدو د اعلان سره سم پوه شول؛ چې شوروي پوځیانو پرافغانستان یرغل کړی.

افغانانو د دې یرغل پرضد جدي غبرګون وښود او په هره سیمه کې د شوروي پوځیانو پر وړاندې خوځښتونه او پاڅونونه پیل شول.

سلګونه زره افغانان نورو هیوادونو ته کډوال شول، د علماوو له خوا د جهاد اعلان وشو او د شوروي ځواکونو او د هغه وخت د حکومت پرضد وسله واله جګړه پیل شوه.

د پخواني شوروي اتحاد پوځیانو څه باندې نهه کاله په افغانستان کې تیر کړل، زرګونه تنه یې د افغانانو د مقاومت په نتیجه ووژل شول او زرګونه نور ټپیان شول.

په دې نهه کال کې د پخواني شوروي اتحاد ډیرې الوتکې، ټانکونه او پوځي امکانات له مینځه ولاړل او شوروي پوځیان له دې هیواد څخه تیښتې ته مجبوره شول؛ حتی پخوانی شوروي اتحاد هم ټوټې ټوټې شو.

پرافغانستان د پخواني شوروي اتحاد په څه باندې نهه کلن یرغل کې سلګونه زره افغانان ووژل شول؛ ګڼ شمیر نور معلول او ټپیان شول او په دې هیواد کې اقتصادي، سیاسي او داسې نورې زیربناوې او بنسټونه یا سخت زیانمن او یاهم ویجاړ شول.

پخواني جهادي مشران ترډیره په دې باور دي چې په افغانستان کې د تیرو درې دیرش کلنو ستونزو او ناخوالو علت د جدي پر شپږمه پردې هیواد د پخواني شوروي اتحاد پوځي یرغل او له هغې وړاندې په دې هیواد کې د ثور کودتا وه.

د پخواني شوروي اتحاد پوځي یرغل د افغانستان د معاصر تاریخ یوه مهمه پیښه بلل کیږي؛ چې اغیزې یې پرافغانانو منفي او اوږدمهاله دي.

سره له دې چې له هغه وخته درې دیرش کاله تیریږي خو لاهم افغانستان له هره پلوه له راز راز ستونزو سره مخامخ دی، په دې هیواد کې لاهم جنګونه روان دي او په دې لړکې د پخواني شوروي پوځیانو ښخ کړي ماینونه د افغانانو مهم پټ دښمن بلل کیږي.

دغه راز داسې باور او اندیښنې هم موجودې دي چې ښایی له اوس نه درې دیرش کاله وړاندې پرافغانستان د پخواني شوروي پوځیانو یرغل له دې وروسته هم د کلونو کلونو لپاره پردې هیواد منفي اغیزې ولري او افغانان له راز راز کړاونو او ناخوالو سره مخامخ کړي.

### نشست های مشورتی صلح ...

ترکمنستان، به عنوان محل گفتگو ها تعیین شده، اما سخنگوی یوناما گفته است که ترکمنستان به عنوان "یکی از انتخاب ها" مطرح گردیده است.

وزارت خارجه با نشر خبرنامه ای، گزارش هایی را نادرست خوانده است که گویا حکومت افغانستان از تدویر نشست های مشورتی صلح بدون مشوره و هماهنگی با دولت، در خارج از کشور حمایت می کند. در خبرنامهٔ وزارت امور خارجه که به پژواک رسیده آمده است: "وزارت امور خارجه جمهوری اسلامی افغانستان، اکیداً تکرار می نماید که تدویر هرگونه جلسات و نشست های بین الافغانی مشورتی در ارتباط به پروسهٔ صلح افغانستان، باید با موافقت دولت افغانستان و در داخل کشور صورت بګیرد.

اما وزارت خارجه گفته است که مذاکرات رسمی مستقیم بین دولت افغانستان و طالبان، میتواند در خارج از کشور از طریق پروسه های رسمی، به شمول ایجاد دفتر تحریک طالبان در قطر، صورت گیرد. نیلاب مبارز عضو دفتر سخنگوی یوناما، نخواست که در مورد اعلامیهٔ وزارت خارجه ابراز نظر کند.

این در حالی است که هفتهٔ گذشته، نشست سه روزه به اشتراک نمایندگان مخالفین مسلح دولت، احزاب سیاسی و شورای عالی صلح افغانستان در پاریس تدویر یافت. این نشست، از سوی نهاد تحقیقات استراتیژیک فرانسه دایر گردید. حامد کرزی رییس جمهور کشور، به تاریخ ۲۸ قوس گفت: دولت افغانستان از هر اقدام صلح که اهداف دیګر نداشته باشد، حمایت می کند.

### ایران د افغان کډوالو د ...

دیارلس وژل شویو افغانانو د مړو د ترلاسه کولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

"موږ دغه خبره جدي تعقیبوو، چې جسدونه وسپارل شي، ځینې ایراني چارواکي وایي، چې دا د ایران قانون نه دی، چې جسدونه وویستل شي، خو موږ په دې باندې کار کاوو، دغه ډیره بده پیښه وه، یوه داسې واقعه وه، چې زموږ د ټولو لپاره دردوونکې ده، دا چې د بهرنیو چارو وزارت امکانات او ډیپلوماسي ایجابوي، نه یواځې غندو یې، بلکې په دې باندې کار کوو، چې جسدونه یې افغانستان ته راوړو."

د روان کال د سنبلې په دریمه نېټه، یوشمیر افغانانو چې غوښتل یې ایران ته د مزدورۍ لپاره ولاړ شي؛ د افغانستان او ایران په ګډه پوله د ایراني ځواکونو له خوا ووژل شول؛ چې مړي لا هم نه دي سپارل شوي.

څه موده مخکې د دغو دیارلسو افغانانو وارثینو په هرات کې د ایران په قونسلګرۍ په وړاندې احتجاجي مظاهره وکړه او د قونسلګرۍ ودانۍ یې په ډبرو وویشتله.

سناتورانو په ایران کې د افغان کډوالو د ستونزو د هوارې لپاره د افغان حکومت هڅې قانع کوونکې و نه بللې او سپارښتنه یې وکړه، چې دا مساله دې د دواړو هیوادونو د مشرانو په کچه پورته کړای شي.

سناتورې نجیبه حسیني وویل، چې زموږ غوښتنې باید دافغان ولسمشر له خوا د ایران ولسمشر ته وړاندې شي:

"موږ په لوړه کچه غوښتنه کوو چې دغه موضوع دې په کابینه کې مطرح شي او د کابینې له لارې کېداشي، چې ولسشمر د ایران اسلامي جمهوریت له ولسمشر سره په دې اړه خبرې وکړي؛ په دې برخه کې ستاسو جدي پاملرنه غواړو."

ایران د سیمې یو له هغو هیوادونو څخه دی، چې په زیات شمیر کې افغان کډوال په کې میشت دي، خو تل داسې رپوټونه ورکول کیږي، چې افغان کډوال په پراخه او لوړه کچه خورول کیږي.

په دغه هیواد کې د افغانانو اعدامول، چې د رپورټونو له مخې د مدافع وکیل پرته محکومیږي؛ بله مساله ده، چې افغانان یې په کور دننه زیات اندیښمن کړي.

### بعضی کاندیدان احتمالی از ...

یکی از کسانی است که می گوید، در انتخابات ریاست جمهور خود را کاندید می کند. او تصاویر اش را با نوشتهء کاندید ریاست جمهوری انتخابات افغانستان در فیس بوک گذاشته است.

هم چنان برخی از افراد در انترنت صفحات پشتیبانی از برخی از کاندیدان مورد علاقه شان را نیز باز کرده اند که عطا محمد نور والی بلخ نیز در میان همین کاندیدان شامل می باشد. در حال حاضر بیشترین استفاده کننده های فیس بوک را جوانان تشکیل می دهند و آنان از این طریق بحث های جدی و کلانی را هم مطرح می کنند.

داکتر عبدالله عبدالله کاندید قبلی انتخابات ریاست جمهوری و رییس حزب ایتلاف ملی افغانستان به این باور است که نسبت به گذشته در انتخابات پیش رو فیس بوک نقش مفیدی را به کاندیدان انتخابات ریاست جمهوری بازی خواهد کرد.

" استفاده از فیس بوک در انتخابات گذشته زیاد رایج نبود، اما با وجود آن هم ما و نماینده های ما فعال بودیم. در باره انتخابات آینده بګویم که هنوز کمپاین های انتخاباتی آغاز نشده، من یقین دارم که وقتی که کمپاین های انتخاباتی آغاز شود، همه با جدید از این محیط اطلاع رسانی نیز استفاده خواهند کرد."

برادر رییس جمهور افغانستان قیوم کرزی، سفیر قبلی امریکا در افغانستان زلمی خلیل زاد و علی احمد جلالی سابق وزیر داخله افغانستان از جمله کسانی اند که گفته می شود خود را در انتخابات آینده ریاست جمهوری افغانستان، کاندید خواهند کرد.

در حالیکه این افراد به طور رسمی خود را به عنوان کاندید ریاست جمهوری افغانستان معرفی نکرده اند، اما در صفحات فیس بوک شان به نحو کمپاین های انتخاباتی را آغاز کرده اند.

علی احمد جلالی در دو صفحه فیس بوک مربوط به خودش از مردم خواسته تا متحد شوند و وحدت ملی را در کشور خود بسازند. اما برخی از کارشناسان سیاسی استفاده از فیس بوک را در کمپاین های انتخاباتی چندان موثر نمی دانند.

### یک هیأت افغانی به خاطر ...

گزارش ها می رسانند که این گروه از افغان ها به شمول اطفال و زنان حدود ۱۰ روز پیش از ترکیه به طور غیر قانونی به طرف یونان حرکت کرده بودند.

اما آنها در آبهای یونان غرق شدند. شهریار خان یک افغان مقیم یونان در صحبت با رادیو آزادی گفت که موفق شده است با یک افغانی که پس از وقوع این حادثه زن مانده، صحبت کند.

شهریار به نقل از این افغان گفت که اجساد قربانیان متلاشی شده اند. او در مورد علت غرق شدن این کشتی چنین گفت:

"طوفان شدید بود باد می وزید و آب داخل کشتی شد. علت دیګر این بود چون کشتی ماهی گیری بود گنجایش حمل ده تا پانزده نفر را داشت. قربانیان حالت اصلی خود را از دست داده و زیاد تغییر کرده اند."

در گذشته نیز چندین بار کشتی های حامل مهاجران غیر قانونی افغان در آبهای یونان غرق شده اند. مشکلات اقتصادی و نا امنی ها در افغانستان از عوامل عمدهء فرار افغان ها از این کشور خوانده می شود.

گزارش ها می رسانند افغان های که به طور غیر قانونی به بیرون از افغانستان سفر می کنند در برخی موارد به سر منزل مقصود نمی رسند.

دغه رنګ مو نامې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت (اونیزه)
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر. د شاداب ظفر بلاکونو شاته. خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com